زه تاسو ته د الله له وېرې (تقوى) سپارښتنه کوم، او دا چې د خپل مشر خبره واورئ او اطاعت يې وکړئ، که څه هم يو غلام پر تاسو حاکم شي، ځکه څوک چې له ما وروسته ژوند وکړي، نو ډېر اختلافونه به وويني، نو پر تاسو لازمه ده چې زما سنت (طريقه) او د راشدو، هدايت شوو خلفاوو لار تعقيب کړئ

له ابو نجيح، العرباض بن ساريه رضي الله عنه څخه روايت دی، وايي چې: موږ ته رسول الله داسې پند (نصيحت) راکړ چې زړونه پرې ولړزېدل، او سترګو اوښکې تويې کړې، نو موږ وويل: اې د الله رسوله! داسې ښکاري لکه دا چې د يوه مخه ښه کوونکي نصيحت وي، نو موږ ته وصيت وکړه! هغه وفرمايل: «زه تاسو ته د الله له وېرې (تقوى) سپارښتنه کوم، او دا چې د خپل مشر خبره واورئ او اطاعت يې وکړئ، که څه هم يو غلام پر تاسو حاکم شي، ځکه څوک چې له ما وروسته ژوند وکړي، نو ډېر اختلافونه به وويني، نو پر تاسو لازمه ده چې زما سنت (طريقه) او د راشدو، هدايت شوو خلفاوو لار تعقيب کړئ، او پرې ټينګ پاتې شئ؛ د ژامې غاښونه پرې ټينګ کړئ او (په دين کې) له نوو جوړو شوو چارو ځان وساتئ، ځکه هر بدعت (نوې اختراعه شوې ديني کړنه) ګمراهي ده».

[صحيح دی] [ابو داود او الترمذي روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم خپلو صحابه کرامو ته داسې په زړه پورې خطبه ورکړه چې له امله يې زړونه ووېرېدل او له سترګو اوښکې وبهېدې. نو هغوی وويل: اې د الله رسوله! دا خو داسې يو وعظ دی لکه څوک چې الله په اماني اخلي، ځکه هغوی رسول الله صلى الله عليه وسلم وليد چې په وعظ او نصحيت کې يې زياته مبالغه وکړه، نو د وصيت غوښتنه يې ترې وکړه تر څو پرې له هغه وروسته منګولې ولګوي. هغه وفرمايل: د الله تعالى د واجباتو په پرې ځای کولو او له منهياتو څخه يې په ځان ساتلو سره درته له الله تعالى څخه په ويرېدلو وصيت کوم، او دا چې واکمنانو ته غوږ ونيسئ او پيروي يې وکړئ، که څه هم پر تاسې يو غلام واکمن شي، يعنې تر ټولو ټيټ انسان پر تاسې امير وګمارل شي نو سرغړونه ترې مه کوئ بلکې پيروي يې وکړئ، تر څو فتنه راولاړه نشي، ځکه يقينا که چېرته په تاسو کې له مانه وروسته څوک ژوندی پاتې شي نو زيات مخالفتونه به وګوري. بيا يې ورته لدې اختلاف څخه د وتلو لاره وښودله، چې هغه له هغه وروسته د رسول الله صلى الله عليه وسلم او راشدينو هدايت موندونکو خلفاوو په سنتو منګولې لګول دي؛ أبو بكر صديق، عمر بن الخطاب، عثمان بن عفان او علي بن أبى طالب رضي الله عنهم أجمعين، او دا چې د ژامې وروستۍ غاښونه پرې ټينګ کړي، چې پدې سره يې موخه په سنتو کلک پاتې کېدل او منګولي لګول وو. او په دين کې يې له نويو کارونو راپيدا کولو څخه ووېرول، ځکه (په دين کې) هر نوښت ګمراهي ده.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/66529